کله چې ستاسو څخه یو څوک اودس وکړي، نو پوزې ته دې اوبه واچوي، بیا دې سوڼ کړي، او که له تاسو څخه یو څوک اودس وچوي نو په تاق عدد (اودس ماتو) دې وچ وکړي

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: "کله چې ستاسو څخه یو څوک اودس وکړي، نو پوزې ته دې اوبه واچوي، بیا دې سوڼ کړي، او که له تاسو څخه یو څوک اودس وچوي نو په تاق عدد (اودس ماتو) دې وچ وکړي او کله چې له تاسو څخه یو څوک له خوبه راپاڅیږي، نو لوښي کې ښکته کړي، ځکه چې ستاسو څخه یو څوک پدې نه‌خپل لاس دې ومینځي، مخکې له دې چې هغه په پوهیږي چې لاس یې شپه چېرته تېره کړې ده». او د مسلم لفظ داسې دی: کله چې له تاسو څخه څوک له خوبه راویښ شي، نو تر هغې دې خپل لاس په لوښي کې نه ډوبوي، تر څو چې یې درې ځلې پرېمنځلی نه وي، ځکه هغه نه پوهیږي چې لاس یې په کوم ځای کې شپه تېره کړې ده».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د پاکوالي ځینې حکمونه بیان کړل چې له جملې څخه یې ځینې دا دي: لومړی: څوک چې اودس کوي نو باید چې پوزې ته اوبه له تنفس سره کش کړي، او بیا یې ښرته په تنفس کولو سره راوباسي، یعنې سوڼ یې کړي. دویم: که څوک وغواړي چې د حاجت له رفع کولو وروسته له پلیتې څخه ځان له اوبو پرته په نورو څېزونو پاک کړي لکه تېره او داسې نور نو باید چې په تاق عدد سره یې پاک کړي چې تر ټولو کم شمېر یې درې دی او زیات یې دومره دی چې ناپاکي پرې پاکه شي او د اودس ماتي ځای پاک شي. دریم: څوک چې د شپې له خوبه راپاڅیږي نو باید د اودس کولو لپاره خپل لاس په لوښي کې دننه نه کړي تر دې چې له لوښي څخه د باندې یې درې ځلې وومینځي، ځکه هغه نه پوهیږي چې لاس یې چېرته شپه تېره کړې ده، او هېڅ ډاډ نشته چې لاس به یې له پلیتې څخه پاک وي او کېدای شي شیطان پرې لوبې کړي وي او داسې شیان یې ورته راوړي وي چې انسان ته ضرر لري او یا اوبه خرابوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3033